مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۳/۱۰/۰۹

د هـرات ویـر

د هـــرات نـــړېـــدو زړه راتـــه اره کـــړ
هرخبر چې تـرې راځـي زړګی مې شـین دی

نه ماشوم، نه ځوان، نه زوړ ورنه خلاص شوی
مـرګ د هـرکـور دروازه کـې ورته شـین دی

لـــه هـــوا نـــه تـیـګـه لـوټـه کـــه رالوېـږي
لـګـېـدل یـــې د افـــغـــان پـــرسـر اړیـن دی

پـه کـوم وره کـې زمـوږ عرض اورېده نه شي
زمـــوږ وطـن د ګـنـهـکـارو یـــو زمـیـن دی

هـره خـوا او پـــه هرلـور چې قدم کـېږدې
هـــره لاره ، پـــه هـربـن کې مرګی شین دی

کـه هېڅوک هم پیدا نـه شـي پـه جـهـان کې
د افـغـان پـر کـالـه تـنـدر، پـرې آمـین دی

۲۰۲۳/۱۰/۰۸
کوپنهاګن، ډنمارک

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ